بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغانستان د علماوو د لویې غونډې پریکړه لیک

(۱۴۴۳/۱۲/۳ هـ ق ــ۱۴۰۱/۴/۱۲ هـ ش)

دا چې افغانستان یو اسلامي هیواد دی او په تاریخي لحاظ دیني علماء کرامو، متدینو قومي مشرانو، مخورو او مجاهدینو همیشه د هیواد په آزادۍ ساتنه، نظام سازۍ او د خپلو دیني او ملي ارزښتونو په دفاع کې اساسي نقش درلودلی. بناء په کابل کې دائره شوې د افغانستان د علماوو په لویه غونډه کې موږ ګډونوال علماء کرام او ولسي متنفذین چې شمیر مو (۴۵۹۵) ته رسیږي، خپل موقف د هیواد د موجوده اسلامي نظام او روان وضعیت په اړه په لاندې ډول اعلانوو.

**اوله ماده:**

اسلامي نظام د الله تعالی ستر نعمت او زموږ د مؤمن ولس همیشنۍ غوښتنه وه. تجربو ثابته کړې چې اسلامي نظام له ځان سره عدالت، امنیت، عزت او برکت راوړي. اسلامي نظام زموږ د جهاد او څه باندې څلورو لسیزو قربانیو، هجرتونو او مشقتونو ستر ارمان او هدف و. دا چې د الله تعالی په ځانګړي فضل په ګران هیواد افغانستان کې اسلامي نظام حاکم شوی، موږ یې نه یوازې کلک حمایت کوو، بلکې مرسته، دفاع او هر اړخیز ملاتړ یې د ټول ولس دیني او ملي وجیبه ګڼو.

**دوهمه ماده:**

موږ د افغانستان اسلامي امارت له زعیم امیر المؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده (حفظه الله) سره خپل بیعت یو ځل بیا تجدیدوو او په کلکه یې ملاتړ کوو. نوموړی مو د افغانستان د شرعي حاکم او اسلامي امارت د امیر په حیث منلی او منو یې. او له الله تعالی څخه ورته په ټولو دیني او دنیوي چارو کې توفیق غواړو.

**دریمه ماده:**

څرنګه چې اسلامي امارت د افغان ولس له متن څخه راپورته شوی او هیڅ بهرنی جهت د هغه په اقامه کې دخالت نه لري چې همدا یې د داخلي مشروعیت مؤثق دلیل دی. دغه راز یې په ټول هیواد کې سرتاسري امنیت تأمین کړی، د قدرت جزیرې یې له منځه وړي، افغانستان او د سیمې نورو هیوادونو ته متوجه ګواښونه یې خنثی کړي، په حکومتدارۍ کې یې د فساد، غصب او اختلاس کلتور ختم کړی او په افغانستان کې یې یو مرکزي واکمن نظام رامنځته کړی دی. د دې نظام تقویه نه یوازې د افغانستان او سیمې بلکې د ټولې نړۍ په ګټه ده. بناء د سیمې او نړۍ پر هیوادونو، په ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو، بالخصوص اسلامي هیوادونو او سازمانونو باندې غږ کوو چې اسلامي امارت د یوه مشروع نظام په حیث په رسمیت وپیژني. مثبت تعامل ورسره وکړي، له افغانستان څخه ټول بندیزونه پورته، د افغان ولس کنګل شوې شتمني آزاده او د هیواد په اقتصادي ترقي او بیا رغونه کې زموږ د ملت ملاتړ وکړي.

**څلورمه ماده:**

موږ د اسلامي امارت له لوري د مخدره موادو د کښت، تولید، قاچاق او استعمال د مخنیوي په اړه د صادر شوي فرمان کلک حمایت کوو.

**پنځمه ماده:**

موږ د متقابل احترام او تعامل اصل ته په پام سره له ګاونډیو هیوادونو، سیمې او نړۍ سره د عدم مداخلې له سیاست او د هغوی پر خلاف د افغانستان خاورې د نه استعمال په اړه د اسلامي امارت له موقف څخه ملاتړ کوو. همدارنګه د بالمثل تعامل په اساس له ګاونډیو هیوادونو، سیمې او نړۍ څخه مطالبه لرو، چې دافغانستان په داخلي چارو کې لاسوهنه ونه کړي. او هیچا ته دې اجازه نه ورکوي چې د دوی له خاورې په استفاده د افغانستان پر خلاف فعالیت وکړي.

**شپږمه ماده:**

د افغانستان اسلامي امارت یو حاکم اسلامي نظام دی، چې په ټول هیواد سلطه لري. په هیواد کې یې امنیت او عدالت تأمین کړی دی. د دې نظام په وړاندې هر ډول مسلحانه مخالفت بغاوت او فساد في الارض ګڼل کیږي چې دفع کول یې په امارت او ملت واجب دي. همدارنګه د همدې حاکم اسلامي نظام هر نوع مخالفت چې له اسلامي شریعت او ملي منافعو سره په ټکر کې وي فساد او ناروا عمل دی.

**اوومه ماده:**

پر ملت غږ کوو چې د داعش په نوم فتنه ګر د دې عصر خوارج او باطله ډله ده چې زموږ په اسلامي هیواد کې فساد خپروي. د دوی سره هر قسم مرسته او تعلق شرعا ناروا عمل دی.

**اتمه ماده:**

پر هغو علماوو چې د ټولنیزو رسنیو له لارې اختلافي موضوعات راپورته کوي غږ کوو چې له مناظرو او زیان اړوونکو بحثونو څخه په کلکه ډډه وکړي، ځکه له دې امله خلکو کې اختلافات او تشویشونه پیدا کیږي او په ملت کې د فتنې سبب ګرځي.

**نهمه ماده:**

په اسلامي امارت غږ کوو، چې عدالت، دیني او عصري تعلیم، صحت، زراعت، صنعت، د اسلامي مقدس شریعت په رڼا کې د اقلیتونو، ماشومانو، میرمنو او ټول ولس حقوقو او په ټوله کې هر اړخیز پرمختګ، اقتصادي ودې او متوازن انکشاف ته خاصه توجه وکړي.

**لسمه ماده:**

موږ د اسلامي امارت په مشرتابه غږ کوو، چې خپل موجود وحدت نور هم مستحکم ، ملي وحدت لا پیاوړی او ارضي تمامیت وساتي. د ملي مصالحو په تحقق، د فقر او بیکاري په مخنیوي او د ولسي رفاه په لاره کې رغنده ګامونه واخلي.

**یوولسمه ماده:**

دا چې اسلامي امارت هیواد ته د بهر ته تللیو شخصیتونو د راېللو پروسه پیل کړې، موږ یې حمایت کوو. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. هیڅوک باید دلته د پردیتوب احساس ونه کړي. له هیواده بهر شخصیتونو څخه مو غوښتنه دا ده چې رامنځته شوی وضعیت یو فرصت وبولي، خپل هیواد ته راستانه شي او د پردیو په لمسون د مغرضانه فعالیتونو څخه ډډه وکړي.

**ومن الله التوفیق**